AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۵/۱۰/۱۱

# اسلامي‌امارت د ولس له ازمايښت سره مخامخ دی

تیره شپه د افغانستان پر پلازمینه کابل باندي د ښمن هیواد پاکستان له لوري دوه هوايي بريدونه، د ټولو افغانانو له خوا سخت غندل شوی او د دوي ډيره غصه يي راپارولې ده.

پر کابل دا هوايي بريد بې ساری دی، کم تر کمه د هیواد والو له پاره بيخي يو نوی ناورين دی، داسي يو کرغيرن هيواد چي د خپل موجوديت له رامنځ ته کيدلو راهيسي، په لومړي ځل دا جرآت پيدا کوي او د افغانستان پر زړه داسي، يو سفاکارانه بريدونه کوي. بيا يي د پوځ وياند په پوره سپين سترګی، د ژورنالیستانو پوښتنو ته، سم ځواب نه ورکوي، خو دا زياتوي، چي موږ په هر ځاي کي چي ترهګر وي، هغه په نښه کوو، معنا دا چي بريدونه موږ کړي دي.

دا چي ټول افغانان په دې پوهيږي، پاکستان زموږ داسي يو دښمن دی، چي د هيوادونو، په تاريخونو کي به يي سارى کم ليدل شوی وي.

دوي زموږ هيڅ ډول پرمختګ، هغه که اقتصادي، فرهنګي، سياسي او نور وي، نه شي زغملی. دوي په خپلو شومو اعمالو سره، دا ثابته کړې ده، چي د افغانانو د وژلو او له منځه وړلو له پاره له هيڅ ډول، کرغيرن عمل څخه ډه ډه نه کوي او نه به يي وکړي.

پاکستان تر اوسه زموږ په لکونو رسيدلي کدرونه او د سر سري راته وژلي، چي دا لړۍ د شهيد داود خان او ان له هغه مهاله تر مخه هم، د دوي دسيسي او د افغانانو وژني رواني وي، چي تر اوسه يي دوام کړی دی.
خو پوښتنه دلته ده، چي طالبان د کوم درد دوا دي؟

دوي د خپل هيواد هواي حريم نه شي خوندي کولی.

واک ته د رسيدلو يي څلور نيم کاله تيريږي، خو د جينکو زده کړي، تر اوسه د امر ثاني پوري ځنډيدلي، د ښځو په کار کولو بنديز دی، په داسي حال کي چي په لکونو کونډی ښځي، په هيواد کي ژوند کوي او د خپلي کورنى ساتلو دنده يي پر غاړه ده.

اساسي قانون شتون نه لري او حکومت يي تر اوسه سرپرست دی.
د عام ولس ساه په مرۍ کي بنده ده، په ميلونونو ځوانان بيکاره دي او د سپين ږيرو تقاعد نه ورکول کيږي، خو د دوي يو لک مفت خوره پوځ په لکونو تنخوا ګاني اخلي او د مظلوم دوکاندار، کاريګر او نورو بيوزلو څخه، په ميلونونو ماليات راټولوي، څوک شته، دي ښاغلو څخه پوښتنه وکړي، چي د بهرني تيرى پر وړاندي د پوځ مسوليت څه شی دی؟

د عامو افغانانو په خبره، دا طالبان يوازي ستونزي زيږوي، هيواد يي مخ پر شا روان کړی دی، له خپلو جيبونو نه د اسلام په نوم فتوي راباسي او په راز راز بنديزونو، لکه په عام محضر کي انسانان، د دورو په وهلو، محکوموي او سزا ورکوي، ځواني ښځي سنګساريږي، يا ځوانان د ږيري لندولو له کبله وهل ټکول کيږي، په سلګونو داسي کړني، چي خلک يي تر سپيرمو رسولي او په داسي اعمالو د عام ولس له پاره سر خوږی جوړوي، چي له هيواد څخه يي بنديخانه جوړه کړی ده.

په لومړي قدم کي، د هرې ټولنې وګړي له پاره، په ژوند کي اساسي غوښتنه د هغوي د اولادونو سالمه روزنه ده، د جينکو او هلکانو له پاره يي مور او پلار يو ډول غوښتنه لري، چي د امارات له داسي بنديزونو وروسته په ميلونونو کورنی د خپل اولاد د تعليم له کبله، هيواد پريښودلو ته اړ شوي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

اوس مهال بیا پاکستان د ټولو نړیوالو قوانینو او نورمونو خلاف د افغانستان پر زړه، بریدونه کړ یدي.
دوي تر اوسه  په داسې خلاص مټ د هیواد پر هر ولایت، لکه خوست، پکتیکا، پکتیا، کونړ او نورو سیمو کې، بې سارې بمباری کړي او تیره شپه یې پر کابل او ورسره پر پکتیکا ولایت کې هم بمبارد کړی دی.

طالبان باید پاکستان ته ورته ځواب ووایي. که چیرې یې په تیر کال کې پر خوست او پکتیکا کې د بمبارد کولو، له کبله پاکستان ته غاښ ماتونکی ځواب ورکړی وایې، نن به پاکستان په دومره بې حیایې او سپین سترګتوب د افغانستان هواي حریم نه نقص کوو.

ډیرې افغان څیرونکي د پاکستان له خوا داسې بربنډ تیری، د طالبانو بې واکي او پر پاکستان پورې د دوي تړل یایې غلامان ګڼي، چې دوي نه شي کولي د دغه موذي هیواد پر وړاندې خپل سر پورته کړي.

د پاکستان له خوا پر کابل داسې د دښمنۍ ډک بریدونو ته، طالبان باید  پرته له ځنډه ځواب ووایې، که نه وي، دا خبره به نوره هم ثابته شي، چې طالبان د پاکستان ګوډاګیان دي او د هغوي پر وړاندې بې وسه او بې واکه دي، چې د افغانانو له سخت غبرګون سره به مخامخ شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو  همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ